مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۲/۰۸/۱۲

د افغانستان سیاسي - تأریخي ژرونال

څلورم ټوک، مزار شریف
او د افغانستان شمال - مرکزي برخې

یوسلو څلوردیرشمه برخه

تصحیحات:
ډاکټر لودویک ډبلیو آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1979

تأریخي شالید

اداري پړاو یا دوره: ۱۸۵۰ – ۱۸۶۳ز

لومړی فصل

په افغان تورکستان کې افغان واکمني

له ۱۸۵۰ز کال مخکې د افغان تورکستان د پخواني تأریخ بیا کتنه –

وروسته له دې چې افغانانو بلخ ونیوه د بخارا وضعیت –

د اکسوس سیند د بخارا او افغانستان ترمنځ سرحد –

د غلام حیدر خان له پلوه د خلم تسخیر –

په افغان تورکستان کې وضعیت –

د آقچې تسخیر –

پر کندز باندې د افغان واکمنۍ ټینګښت –

د افغان تورکستان په اداري کې بدلون، ۱۸۵۲ –

د افغانانو په لاس د مزارشریف نیول او په دې اړوند پاڅونونه –

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د افغان تورکستان په هکله د هرات او کابل تر منځ اړیکي، ۱۸۵۳-
په منځنۍ آسیا کي عام وضعیت. ۱۸۵۳ – ۱۸۵۴ –
په شبرغان کي د پخواني میر ولي له دښمنۍ ډک عملیات، ۱۸۵۴،
د افغانانو له پلوه د څلورو لویدیځو ولایتونو تسخیر: میمنه، اندخوی، شبرغان او سر پل.
۱۸۵۰ ز کال.
له ۱۸۵۰ز کال مخکي د افغان تورکستان د پخواني تأریخ بیا کتنه –
د محمد اکرم خان له پلوه د بلخ تسخیر، موږ ته یو ښه موقعیت په لاس راکوي چي له همدې ټکي څخه د هندوکش او اکسوس تر منځ د ټولي سیمي پخواني تأریخ ته بیا کتنه وکړو چي د دوست محمد خان د رامنځته کیدونکي سلطنت یوه برخه وګرځیدله. د اتلسمي زیږدیزي پیړۍ په منځ کي ول چي د انارشۍ او وینو تویولو له صحنو څخه پرده پورته سوه. د (افشار - ژ) د نادر شاهي ستروا کۍ د بنسټ ایښودونکي له مرګ سره سم، دا ستروا کي نړیږي؛ د ارمنیا او خراسان تر منځ رقیب مشران د خپل محدود حاکمیت لپاره په سختو جګړو کي ښکیل سول، دغه حالت د مرغاب د سیند او د پامیر د ډاګ او بیدیا تر منځ وزبیک ایالتونه باندنیو ځواکونو ته د یوې مړۍ په توګه پریښودل چي راسي او له ځان سره ئـي ونښلوي. د اکسوس شمال لور ته د چنګیز خان له خاندانه یوه ګوډاګي او لاسپوڅي شهزادګي د بخارا څېڅانده یا متزلزل تاج او تخت ونیوه؛ حال دا چي د پلازمیني ګرد چاپیره سیمي د جګړو او د سیمه ییزو مشرانو د دسایسو له کبله ټوټه ټوټه سوي وي. هلته لیري، ختیځ خوا ته د ډلهي (دهلي) مغولي ستروا کي چي په تیري پیړۍ کي ئـي پر کابل او بلخ باندي د خپلي واکمنۍ غمی غړولی وو دا مهال د نادر شاه (افشار - ژ) له لاسه مرګونی ګوزار خوړلی وو او د مرهټه وو د بریدونو له کبله په چټکۍ سره د ټوټه ټوټه کیدلو او نړیدلو په حال کي وو. لنډه دا چي کله چي د نادر شاه د لښکر نامتو او تر ټولو غوره بولندوی احمد شاه ابدالي د خپل ارباب له مړیني وروسته هڅه وکړه چي د اندس او اکسوس ترمنځ افغان اقتدار تأسیس کړي، او باید د فارس له شیعه حاکمیت او د بخارا له وزبیکي واکمني څخه ئـي توپیر درلودای، نو په منځنۍ آسیا کي داسي بل اساسي ځواک نـۀ وو چي دداسي مغروري طرحي پروړاندي دي ودریدای سي. په پای کي احمد شاه د اکسوس پر لور د خپلي ستروا کۍ په غځولو کي کومه ستونزه ونـۀ لیدله؛ او خپل ټول مستملکات ئـي له خپل ټول بشپړوالي سره خپلو ځایناستو ته پرېښودل. خو بیا هم په ۱۷۵۰ز کال کي د احمد شاه د فتحي او په ۱۸۵۰ز کال کي ددوست محمد خان د بیا تسخیر تر منځ دغه د پام وړ اوږد مهال کي د هندوکش او اکسوس تر منځ سیمه باید لږ و ډیر د بحث وړ ځانګړنه ولري.
د افغانانو (پښتنو – ژ) یوه لویه شمیره په لویدیځو او مرکزي ولسوالیو کي استوګنه ده، خوبیا هم د وزبیکانو شمیر ورباندي ډیر دی؛ حال دا چي ختیځي سیمي لکه کندز او بدخشان په سختۍ سره د وزبیکانو او افغانانو (پښتنو – ژ) د استوګنې سیمي ګڼل کیدای سي ځکه دلته د تاجیک عنصر چي مصطلحاً ددوی بومي سیمه بلل کیږي لا تر اوسه غالب عنصر دی. ددغو کوچنیو ولایاتو سیاسي حالات په همدې اندازې نا کراره او څېڅانده ول. دوی په خپلو منځو کي د یو بل پر ضد په دسیسو او شخړو کي بوخت ول، دوی په اکثرو حالاتو کي د هر هـغـۀ فـئـوډالي اقتدار منلو ته چمتو ول چي د ډیر لږ خراج په بدل کي ورته اعظمي امنیت ورکړي. ددوی دیپلوماسي هماغه زړه آسیایي دیپلوماسي وه. دوی به د وادۀ لپاره د خپلي خور یا خپلي لور په ورکړې سره له یوه متحد سره آشتي کوله؛ او دوی به د خپل ارباب زړۀ د آسونو او د مرییانو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

د ورکړې په ډالیو خوشحاله ساته. داسې ښکاري چې افغانستان دې د اتلسمې پیړۍ په دوهمه نیمایي کې پر دغو کوچنیو ولایتونو باندې خپله واقعي سلطه او حاکمیت ټینګ کړی وي؛ خو ویل کیږي چې د نولسمې پیړۍ په لومړیو کې د بخارا شاه مراد په بلخ کې برلاسی درلود او د خپل سلطنت په څو وروستیو کلونو کې ئې ورڅخه ګټه واخیستله. په ۱۸۰۲ز کال کې د شاه مراد له مړینې وروسته بیا په ۱۸۲۶ز کال کې د نصیرالله خان تر رامنځته کیدلو پورې مرکزي او ختیځ ولایات یا مستقل ول او یا به ئې محض اسماً کابل ته بیعت درلود؛ حال دا چې لویدیځ ولایات یا مستقل ول او یا به ئې هرات ته بیعت درلود. د ۱۸۲۶ز کال په شاو خوا کې بخارا، بلخ د خلم د خپلواک حاکم له لاسه خلاص کړ او خپله برلاسي ئې ورباندې مسلطه کړه؛ او لویدیځو ولایتونو به یا د هرات یا د بخارا د تحفظ غوښتنه کوله. په حقیقت کې په ۱۸۳۰ز کال کې د افغانانو له پلوه د بلخ له تسخیره مخکې، د بخارا امیر د اکسوس په سویل کې د سیمو وضعیت ته د پاملرنې پرځای د شهر سبز د حاکم پر وړاندې خپلې اوږدې جګړې کې ډیر بوخت وو؛ او په نتیجه کې د مرغاب له سینده نیولې بیا د پامیر تر لمنو پورې د پرتو دښتو او ډاګونو تر منځ ټوله سیمه په سیاسي انارشۍ کې ډوبه وه. لویدیځ نافرمان ولایتونه لږ و ډیر د هرات تر کنترول لاندې ول؛ مرکزي ولایات د بخارا او خلم تر منځ په نوسان کې ول؛ د خلم واکمن خپله واکمني پر کندز او بدخشان باندې غځولې وه او د هندوکش او د اکسوس تر منځ پر ټولې پرتې سیمې باندې ئې ډیر نفوذ درلود، خو په ۱۸۴۵ او ۱۸۴۶ز کلونو کې د افغان بریدله کبله د خلم د واکمن ټول قوت فلج سو. د سیمې حالات په همدې ډول ول، کله چې محمد اکرم خان د لښکر د راایستلو تکل وکړ، پایله ئې د افغانانو په لاس د بلخ په نیولو واوښتله او د خلم میر ولي د لنډ مهال لپاره بندي سو.

د افغانانو له پلوه د بلخ نیول او د بخارا وضعیت: د محمد اکرم خان لاس ته راغلې بریا په لومړي سر کې یوازې د بلخ په ښار پورې رالنډه او محدوده وه. نوموړي تر دې مه نـۀ د خلم پر لور پرمختګ و کړ او نـۀ هم په تاشقرغان کې د هغې د استحکامي کلا د نیولو پر لور وخوځېد، که څه هم له ظواهرو ښکاري چې نوموړي د سیغانو او ایبکو تر منځ سیمه یو ځل بیا نیولې وه، دا هغه سیمه وه چې نوموړي په ۱۸۴۵ – ۱۸۴۶ کال کې نیولې وه خو کله چې په ۱۸۴۸ – ۱۸۴۹ کلونو کې افغانانو په پنجاب کې پوځي کمپاین درلود، اکرم خان دا سیمه د خلم واکمن میر ولي ته له لاسه ورکړه.

محمد اکرم خان د لویدیځو ولایاتو د نیولو هېڅ ډول هڅه ونـۀ کړه. د نوموړي ټوله پاملرنه په ځانګړې توګه د اکسوس د سیند پر ښی غاړو سیمو باندې وه، ځکه ویل کیدل چې د بخارا امیر د بیا نیولو لپاره چمتوالی نیسي، محمد اکرم خان د بخارا امیر ته هیڅ ډول خراج نـۀ ورکاوۀ او د بخارا امیر یوازې تش په نامـۀ اسماً د حاکمیت ادعا درلوده؛ کیدای سي محمد اکرم خان د افغانانو حضور په بلخ کې د بخارا پر وړاندې یو تهدید ګاڼـۀ، او د بخارا د امیر ښی جناح هر شیبه د افغان لښکر تر تهدید لاندې وه نو ځکه د بخار امیر ته د شهر سبز نیول لا نور ګرانیدل.

د اکسوس سیند، د بخارا او افغانستان تر منځ سرحد. دا استنباط په بشپړ ډول د پیښو د بهیر له مخې تائـیدیږي. محمد اکرم خان د بخارا او د افغانستان د سلاطینو تر منځ پر موجوده توافق باندې ودرید چې له مخې ئې د اکسوس سیند د دواړو سلطنتونو تر منځ سرحد ګڼل سوی وو؛ او ددې په اوریدلو سره د بخارا امیر بلافاصله یا له ځنډ پرته بیرته خپلې پلازمینې ته په شا سو. محمد اکرم خان هم د بخارا امیر ته اخطار ورکړ چې که په داسې شرایطو کې که هر مسلمان په ممکنه جګړه کې ووژل سي نو هغـۀ به ددۀ د کالـۀ په دروازه کې وي، خو نصیرالله خان د هر هغـۀ مسلمان د وینې په توییدنې نـۀ ناراحته کیدۀ چې که دداسې طرحو پر وړاندې دریدلای وای؛ او له هغـۀ وخته لا تر اوسه، چې شرحه به ئې وروسته

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

راسي، د بخارا امير اکسوس د دواړو هيوادونو تر منځ د سرحد په توګه تلويحاً تصديق کړی دی. د ۱۸۵۹ز کال د مذاکراتو په لړ کي د بخارا امير اعلان وکړ چي که افغانان د اکسوس د شمال په بلي غاړي کي د وزبيکو په چارو کي له لاسوهني ډډه وکړي نو د بخارا مقامات به هم د بدخشان، ميمني او د اکسوس په سويل کي د نورو ولايتونو په هکله هيڅ ډول ادعا ونـهٔ لري.

غلام حيدر خان خلم نيسي: د بخارا د امير له شا تګ سره سم په بلخ کي د محمد اکرم خان ويره له منځه لاړه خو د فراغت دا شيبه ئـي لنډه وه ځکه نوموړی له نوي خطر سره مخامخ سو. ظاهراً داسي ښکاري چي د خلم ميرولي دي له زندانه تښتېدلی وي او خپله لاره دي د خلم پر لور نيولي وي؛ نوموړي د ۱۸۵۰ز کال په وروستيو مياشتو کي هڅه وکړه چي د کندز او بدخشان خلک د افغان يرغلګرو پر ضد راپاڅوي. له بل پلوه د (امير – ژ) دوست محمد خان يو بل زوی چي هغه هم غلام حيدر خان نوميدهٔ د محمد اکبر خان له وفات وروسته ظاهراً وليعهد ګڼل کېدهٔ له کابله د خلم پر لور د خلم د نيولو لپاره وخوځېد. نوموړي لومړی شمال لور ته د خلم د سيند په دري کي د ايبکو تر کلا پوري پرمختګ وکړ؛ او بيا له ايبکو لاړ او د خلم ډبرينه کلا ئـي ونيوله چي د تاشقرغان په نامـهٔ يادېدله. غلام حيدر خان د بالاحصار په نيولو سره د دي ټولي سيمي سوبمن جوړ سو. ميرولي خان د اکسوس بلي غاړي ته وتښتېد، خو زوی ئـي ګـنج علي چي پخوا د بدخشان والي وو ځان افغان سوبمنو ته تسليم کړ. خو ددي زوی برخليک ډير تژاژيک سو. له لږ ځنډ وروسته نوموړی د ميرولي لاس ته ورځي، پلار خپل زوی په دي سزا وژني چي ولی تسليم سوی وو.

۱۸۵۱ز کال: په افغان تورکستان کي وضعيت

د بلخ د ولايت تر څنګ چي مخکي له مخکي د محمد اکرم خان په تصرف کي وو، د غلام حيدر خان په لاس د خلم نيول طبعاً ددويم افغان ولايت د جوړيدلو لامل سو چي د خلم ولايت ونومول سو.ددي تر څنګ د مير اتاليق تر مشرۍ لاندي کندز او لا وړاندي ختيځ خوا ته بدخشان لا تر دي دمه پر سيمه باند د افغانستان تفوق او تسلط ته غاړه نـهٔ ايښودله. څلور لويديځ ولايتونه ميمنه، اندخوی، شبرغان او سرپل لا تر اوسه په تورکستان کي د کابل د مقاماتو له پلوه نـهٔ ول تصرف سوي؛ اوددي لپاره، د سرپل په استثناء، د منلو وړ يو دليل سته، او هغه دا چي دغو څلورو واړو ولايتونو تر ۱۸۵۳ز کال پوري چي د هرات د يار محمد خان د مرګ نيټه ده، د هرات د اداري تر کنترول تسلط ته دوام ورکړ. حتی د آقچي کوچنۍ تحت الحمايه سيمه دداسي يوهٔ حاکم له پلوه اداره کيدله چي ظاهراً تش په نامـهٔ اسماً بخارا ته ئـي تابعيت ښودهٔ.

د آقچي تصرف:

د ۱۸۵۱ز کال په لومړيو کي غلام حيدر خان خپل ورور محمد احمد خان د خلم حاکم او مسؤول وټاکـهٔ او خپله له خپل لښکر سره د آقچي پر لور وخوځېد. غلام حيدر خان دلته له ډير سخت او ټينګ مقاومت سره مخامخ سو. ويل سوي چي ۵۰۰ افغانان (پښتانـهٔ - ژ) ددي بريد په لړ کي ووژل سول؛ خو دا سيمه له ډير وخت وروسته ونيول سوه او بشپړي دري ورځي ئـي ونيولي چي سيمه لوټ او تالا سي. ويل سوي چي د آقچي حاکم بخارا ته وتښتېد. خو غلام حيدر خان هم يو شمير نامتو کسان کابل ته د زندانيانو په توګه واستول. له دي وروسته به روښانه سي چي دواړه (کيشان سدور [1]) [دا بايد ايشان وي يعنی ايشان سدور – ژ] د بلخ پخوانی والي او (ايشان اورتق[2]) د آقچي پخوانی حاکم متعاقباً په کابل کي نظر

[1] - Kishan Sudoor
[2] - Eishan Ourak

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

بند ساتل کېدل؛ نتیجتاً کولای سو دا انګیرنه وکړو چې ولې افغان مقاماتو په دغه پیر کې دواړه قومي مشران کابل ته د زندانیانو په توګه واستول.

۱۸۵۱ – ۱۸۵۲ کال: پر کندز باندې د افغان تسلط ټینګښت

د آقچې له تصرف څخه څو میاشتې وروسته خلکو ښوریښ ته لاس واچاوه خو دا ښوریښ دومره لوی او وحشتناکه نـهٔ وو؛ د آګست په راتلونکې میاشت کې غلام حیدر خان پر خلم باندې خپله واکمني خپل ورور شریف ته ولیږدوله او په خپله کابل ته ستون سو او ګزارش ئـې ورکړ چې په ټول تورکستان کې هر څه په سم او مناسب ډول پر مخ روان دي. د تورکستان ټول میران له آقچې تر بدخشانه او کاشغره کابل ته راورسېدل او امیر ته ئـې ګران بیعه تحایف راوړل او په شانداره ډول ئـې خپل سلامونه (امیر – ژ) دوست محمد خان ته وړاندې کړل؛ او دا هم صریحاً راغلي چې د کندز مشر میر اتالیق د امیر لپاره له خپلو ګران بیعو تحایفو سره کابل ته راورسید او خپل بعیت ئـې امیر ته اعلان کړ او د بدخشان د میر پیغام راوړونکي هم دا مهال کابل ته د رسیدلو په درشل کې ول. تر دې دمه لا میمنه، اندخوی او شبرغان نـهٔ ول تصرف سوي؛ او له دې چې هغه مهال د کابل او هرات تر منځ یو قوي اتحاد موجود وو، دا خبره ډیره لیرې ښکاریدله چې دوست محمد خان دې خپلو زامنو ته اجازه ورکړي چې د نوموړو ولایتونو پر وړاندې دې کوم اقدام وکړي، ځکه که داسې سوي وای دا نو د هرات پر قلمرو باندې برید ګڼل کیدهٔ.

په افغان تورکستان کې په اداره کې بدلونونه، ۱۸۵۲ز کال:

په ۱۸۵۲ز کال کې محمد اکرم خان د ناروغۍ له کبله مړ سو او امیر خپل مشر زوی افضل خان ولیږهٔ چې د اکرم خان ځایناستی سي او د بلخ او آقچې د والي په توګه دنده پر مخ یوسي. په عین حال کې محمد شریف خان د غلام حیدر خان سکه ورور او ځایناستی په خلم کې د حاکم په توګه په خپلې دندې پاتې سو.

هغه پاڅونونه چې پر مزار شریف باندې د افغانانو د تسلط پر وړاندې مرتبط ول. د ۱۸۵۲ز کال نیمایي وو چې محمد افضل خان راغی او د بلخ بولنـه او کنترول ئـې په لاس کې واخیست خو محمد افضل خان ډیر ژر پوه سو چې د نارضایتیو میزان دلته تر بل شي ډیر غالب دی. د مزار شریف د مقدس زیارت خلک چې د انګیرنې له مخې د (حضرت – ژ) علي مقبره ده، سخت نافرمانه او مقاوم ول؛ دوی محمد افضل خان ته سخت زحمتونه ورکړل، دغـهٔ کار افضل خان دې ته اړ ایست چې دا ځای تصرف کړي.

داسې ښکاري چې د افغانانو په لاس د مقدس زیارت د نیولو مسئـلې د وزبیکانو په منځ کې لویه دښمني راوپاروله. محمود خان چې د آقچې د حاکم په توګه ټاکل سوی وو پاڅون وکړ؛ سره له دې چې آقچه په ډیر سرعت بیرته ونیول سوه بیا هم محمود خان وتوانید وتښتي او لا نوره نارضائـیتي ئـې رامنځته کړله. له لږ ځند وروسته محمد افضل خان وکولای سول چې د مزار شریف او هم د آقچې والیان ونیسي؛ محمد افضل خان نیول سوي والیان ددوی له زامنو سره یو ځای اعدام کړل. دغـهٔ خبر ستره خواشیني او هیجان رامنځته کړ. د " خلیفه" په نامـهٔ یوهٔ روحاني له خپلو پیروانو سره پاڅون وکړ او ویل ئـې چې ددغو قلتونو غچ به اخلي. د کندز قومي مشر میر اتالیق خو دومره وحشت پسې اخیستی وو چې له پاڅونوالو سره یو ځای سو؛ خو محمد افضل خان وکولای سول د هغـهٔ ویره رفع او بیرته ئـې بیعت ته راوګرځوي؛ او کیدای سي په همدې کار سره د خلیفه پیروان هم بې زړه سوي وي چې په عین وخت کې تیت او ټول خپلو کورونو ته ستانـهٔ سول.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۱۸۵۳ – ۱۸۵۴: د افغان تورکستان په اړوند د کابل او هرات اړیکي، ۱۸۵۳:

په دغـهٔ مهال کي د کابل او هرات تر منځ اړیکي د لویدیځو ولایتونو په چارو کي د پرمختګ له کبله خپل اهمیت مومي. په ۱۸۵۱ز کال کي د هرات والي یار محـمد خان دا اړینه وبلله چي د تورکستان د غرنیو وګړو پر ضد ځواک ولیږي او د خراج ورکولو ته ئـي مجبور کړي؛ او په ۱۸۵۳ز کال کي نوموړي بیا هیله څرګنده کړه چي په همدي لور ددویم ځل لپاره ځواک ولیږي؛ د همدي موخي لپاره ئـي دا مصلحت وګانـهٔ چي له خپلو اقداماتو څخه (امیر – ژ) دوست محـمد خان خبر کړي چي له باطني نظره ورباندي کومه اشتباه ونـهٔ کړي. د هرات د والي دا اقدام په کافي اندازي ددهٔ اندیښنه څرګندوي چي له کابل سره څرنګه خپلي اړیکي وساتي او هم د آقچي په لویدیځ کي په افغان تورکستان کي د مقاماتو نـهٔ خوځښت په خپله ددهٔ د تشویش وضاحت ورکوي. یار محـمد خان په ۱۸۵۳ز کال کي مړ سو. خو په راتلونکو جملاتو کي به څرګنده سي چي محـمد اکرم خان سرپل په زروه ونیوهٔ. د آقچي د پاڅون په اړوند ویل سوي چي محمود خان پخوا د سرِ پل مشر وو او محـمد اکرم خان بندي کړی وو؛ خو نوموړی ډیر ژر له بنده خلاص او محـمد اکرخان بیرته د آقچي د حاکم په توګه وټاکـهٔ.

۱۸۵۴ز کال: په منځنۍ آسیا کي عمومي وضعیت، ۱۸۵۳ – ۱۸۵۴:

د یار محـمد خان له مرګ وروسته فارس د هرات د نیولو لپاره بیا خپل دسایس پیل کړل. په راتلونکي کال ئـي د بخارا امیر وکولای سول نافرمانه او سرسخته شهرسبز ونیسي. د شهر سبز نیول د پای ټکی نـهٔ وو. ښایي د بخارا امیر ددي ښار د یوي برخي په نیولو بریالی سوی وي او یا دا چي دی په ډیري بیړي بیرته شا تګ ته مجبوره سوی وي. د شهر سبز وروستی‌فتح په ۱۸۵۶ز کال کي د یوهٔ کال له کلابندی، ددي ښار له ټول وژني یا قتل عام او په مریيتوب د خلکو له نیولو وروسته‌ترسره سوه چي شرحه‌به ئـي په همدي لړ کي راسي. په ۱۸۵۴ز کال کي د بخار امیر د اکسوس په سویل کي د خلم د پخواني والي د ملاتړ په پار د عملیاتو په فکر کي وو. په همدي وخت کي په افغان تورکستان کي سرتیري د بغاوت په حال کي ول، ځکه دوی تر ډیري مودي پوري دي ولایت کي پاتي سوي ول او دا تهدید ئـي هم کاوهٔ چي دوی به خپلي وسلي وغورځوي او بیرته به کابل ته ستانـهٔ سي. په دي وخت کي (امیر- ژ) دوست محـمد خان ونـهٔ توانید چي تورکستان ته تقویتي ځواکونه واستوي ځکه نوموړی د کندهار په اړوند ستونزو کي په بشپړ ډول بوخت وو؛ نو یوازینی کار ئـي چي کولای سوای دا وو چي محـمد افضل خان ته امری وکړي چي د سرتیرو زړونه تر لاسه او پخلاینه دي ورسره وکړي او هم د کابل د لارو په اوږدو کي دي مخفي قوتونه په دي موخي ځای پرځای کړي چي که سرتیري وتښتي نو د هغوی مخه دي ونیول سي.

په افغان تورکستان کي ستونزي د بلخ د والي محـمد افضل خان او د خلم د حاکم شریف خان تر منځ د ترخو حسادتونو د موجودیت له کبله لا نوري زیاتي سوي. دا باید په پام کي ونیسو چي محـمد افضل خان او ددهٔ سکه ورور محـمد عظیم خان له ملیکي میرمني ([3]) پیدا سوي ول.[د ژباړونکي یادونه: زه د ملیکي میرمني په معنی پوه نـهٔ سوم چي موخه ئـي ملکه ده؟] خو شریف خان بیا په غوره څانګي اړه درلوده چي مور ئـي پوپلزی وه؛ او ددهٔ مشر ورور محـمد اکبر خان او غلام حیدر خان یو په بل پسي د امیر ظاهر وریثان وټاکل سول. اوسنی امیر، «شیرعلیخان» د همدي پوپلزی میرمني دریم زوی دی. د همدي کال په وروستیو کي شریف خان کابل ته راوبلل سو؛ او سکه ورور ئـي محـمد امین خان د

[3] - Mullik Lady

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

پلوپلزۍ د ځانګې کشر زوی ددۀ پر ځای د خلم د حاکم په توګه واستول سو. د والیانو ادلون او بدلون بیا هم ونـۀ سوای کولای دا اختلاف رفع کړي؛ او د ملیکي میرمني د زوی د محمد افضل خان او د پوپلزۍ د میرمني د زوی محمد امین خان تر منځ اختلافاتو همداسي دوام وموند.

په شبرغان کي د پخواني میرولي خصمانه علمیات، ۱۳۸۴ (د ژباړونکي یادونه: نـۀ پوهیږم لیکوال دلته کوم تقویم کارولی دی او یا ئـي د کال په لیکلو کي تیرونه کړي ده). په نهایت کي هر څه په کړکیچ اوښتي ول.

د خلم پخوانی میرولی چي په بخارا کي په تبعید کي اوسیدۀ له یو شمیر سرتیرو سره له اکسوس څخه راواوښت او شبرغان ئـي ونیوۀ. ګنګوسي خپري سوي چي د بخارا امیر هم په همدي لور له خپل لښکر سره راخوځـېدلی دی. ددي خبر په اوریدو سره وزبیک مشران هماغسي چي توقع ئـي کـېدله په وحشتناکه ډول قهرجن سول؛ او محمد افضل خان کابل ته ولیکل چي "د شاو خوا ټول قومونه داسي باد په سر کي لري چي هیڅ امر او دستور ته غاړه نـۀ ږدي او اطاعت نـۀ کوي." د "ملیک[4]" افغان والي اړ سو چي بیرته بلخ ته په شا سي. د آقچي حاکم ځان محاصره احساس کړ. حتی محمد افضل خان په خواشینۍ او تأسف سره ولیکل چي که د لسو یا پینځلسو ورځو په ترڅ کي ورته تقویتي ځواکونه ونـۀ ورسیږي دی به د بخارا په زندان کي بندي وي. په عین وخت کي د خلم پخواني میرولي چي شبرغان ئـي نیولی وو خپل ځان په بالاحصار کي ټینګ او کلک تدافعي تدابیر ئـي ونیول. په پای کي د خلم د پخواني میر ولی او د بخارا د امیر د وکیل تر منځ شخړه راپورته سوه، نوموړی له میر ولی سره د شبرغان په نیولو کي مل وو؛ او پایله دا سوه چي میرولي نوموړی وکیل بیرته بخارا ته واستاوۀ.

د څلورو لویدیځو ولایتونو میمني، اندخوی، شبرغان او سرپل افغان تصرف.

د ۱۸۶۴ زکال په پای کي شبرغان ځان د بلخ افغان والي ته له جګړي پرته تسلیم کړ. د شبرغان مشر میر، حکیم خان، محمد افضل خان ته خپله تسلیمي او بعیت اعلان کړ، خپل توپونه ئـي وروسپارل او د افغان لښکر ټول هغه لګښتونه ئـي ورکړل چي ددۀ پر ضد لیږل سوي ول. د ۱۸۵۵ز کال په پیل کي د میمني او اندخوی خلکو په همدي ډول خپله تسلیمي او بعیت اعلان کړ او د خپل دود پر بنسټ ئـي هدایا او تحایف وړاندي کړل. سرپل دري یا څلور کاله مخکي تسلیم سوی وو. دا باید دلته یاده کړم چي پخوانی میرولی چي له حکیم خان سره په یوۀ وخت کي په شبرغان کي تسلیم سو ونـۀ سو کولای ځان د وروستۍ فاجعي له منګولو روغ رمټ وباسي. نوموړی د بلخ د مربوطاتو د «نبرادن[5]» حاکم وټکل سو او هدایت ورته ورکړ سو چي هلته دي له خپلي کورنۍ سره استوګن سي. په پای کي راپور وکړل سو چي نوموړی د خوني اسهال له کبله د ۱۸۵۵ز کال د مي د میاشتي پر نهمي نیټي وفات سو، په عام ډول ګنګوسو ویل چي افضل خان ورته زهر ورکړي دي او په زهرو ئـي وژلی دی. داسي ښکاري چي د خلم د میرولي له مړیني سره سم په ختیځو ولایتونو کي امن او نظم بیرته اعاده سو، دغو ولایتونو کي ددۀ پرمختیا او نفوذ عمدتاً پلی کیدۀ. خو لویدیځو ولایتونو هیڅکله د نوموړي اتوریته ونـۀ منله او متعاقباً د هرات او د فارس هڅو لا ولمسول چي هڅه ئـي کوله خپله سلطه دغو سیمو کي ټینګه کړي. خو مخکي له دي چي وغواړو د دسایسو دا لړۍ شرحه کړو دلته اړینه بولم چي په ۱۸۵۵ز کال کي د افغان تورکستان د

[4] - Mullik
[5] -Nebradun,

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

ستونزې نهايي حل او هواری شرحه کړم چې امير دوست محمد خان تر سره کړ او دا د راتلونکي ځپرکي بنسټيزه تومنه جوړوي.

دوهمه برخه

د اختلال پړاو

لومړی فصل

د محمد افضل خان ښورښ

يادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک او دريم ټوک ټولي برخي لوستی شی.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ